UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

## یوناما مرګوني ځانمرګي بريدونه غندي او د هغو بريدونو دبنديدو غوښتنه کوي چې ملکي کسانو ته زيان رسوي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی (یوناما) هغه دوه ځانمرګي بريدونه غندي چې د حکومت ضد قواوو له خوا د مارچ په ۹، ۲۰۱۳ ترسره شوي او لږ تر لږه يې ۱۹ تنه ملکي کسان ووژل، چې د وژل شويو کسانو له ډلې څخه نهه تنه يې ماشومان وو او دغه شان په دغو بريدونو کې ۳۱ تنه نور ملکيان ژوبل هم شول.

د دغو بريدونو يو يې په کابل کې د دفاع وزارت د ودانۍ څخه بهر او بل يې په جنوب ختيځ ولايت خوست کې تر سره شو چې د افغان ملي پوليسو ګزمه يې په نښه کړې وه. دغو بريدونو ډير شمير ملکي تلفات رامنځ ته کړل او پوځي موخو ته يې ډير لږ زيان رسولی دی.

یوناما يو ځل بيا په ټولو حکومت ضد عناصرو غږ کوي چې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو له کارولو څخه او د ملکيانو په ضد يا په عمومي ځايونو کې چې ډيری ملکي خلک هلته موجود وي له ځانمرګي بريدونو څخه ډه ډه وکړي. په ځانګړې ډول یوناما د دې يادونه کوي چې د دغسې تاکتيکونو بې تشخيصه کارول، چې د ملکيانو او نظامي کسانو ترمنځ توپير نه شي کولای د بشرپالنې له نړيوال قانون سره مغايرت لري.

یوناما د هغو قربانيانو کورنيو ته تسليت وړاندې کوي چې غړي يې په بريدونو کې ووژل شول او د ژوبلو کسانو لپاره د چټکې روغتيا هيله کوي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**